# تيره به شي دا

# ځواني

**17-July-2025**

هفته وراه د سُنَّتو نکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو نک بيان

(For Islamic Brothers)



پهٔ 17 جولائي، کال 2025ء (مطابق: 21 مُحَرَّم شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پهٔ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# تیره به شي دا ځواني

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- سره د ناوې او د واده د ځلمي جنج ډوب شو
- --- د ژوند حقيقي مقصد
- --- د خوږې دوستۍ لرونکو 2 ورونړو مرګ
- --- د يو ځلمي قابلِ رَشک مرګ

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ **(ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

# د دُرُودِ پاک فضیلت

د حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عَوف رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې نبي کريم، رَءُوفٌ رَّحیم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یو ځل بهر تشریف راوړو نو زۀ هم پۀ هغوئي پسې وروستو وروستو رروان شوم، هغوئي یو باغ ته لاړل او سجدې له یې تشریف یوړو، هغوئي سجده دومره اوږده کړه چې ما سره ویره شوه چې هسې نه چرته الله پاک د هغوئي رُوح مبارک نۀ وي قبض کړے نو زۀ د هغوئي خوا ته ورنزدې شوم او پۀ غور مې وکتل- هغوئي خپل سر مبارک راوچت کړو او اوئې فرمائيل: اے عبد الرحمانه! څۀ وشو؟ ما پۀ جواب کښې خپله ویره ښکاره کړه، نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: جبریلِ امین (عَلَیۡہِ السَّلَام) ما ته ووئیل: آیا تاسو دا خبره نۀ خوشحالوي چې الله پاک فرمائي: څوک چې پۀ تاسو باندې درود لولي، زۀ به پۀ هغۀ باندې رحمت نازلووم او څوک چې پۀ تاسو باندې سلام رالیږي زۀ به پۀ هغۀ باندې سلامتیا نازلووم- [1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

1 ...مسند احمد، حديث عبد الرحمن بن عوف الزهرى، جلد:1، صفحه:406، حديث:1662-

# د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے- (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **الله** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، بِل‌ـلهٔ پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د مستقبل ښهٔ کولو فکر

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** چې اِنسان کله پهٔ ښهٔ او بد پوهه شي نو دا ګڼې چې بس زهٔ دې دُنیا ته راغلے یم نو بس راغلے یم، اوس به زهٔ د دې ځائے نه نهٔ رخصتیږم- هم دغه وجه ده چې نن سبا هر یو د خپل روښانه مستقبل پهٔ فِکر کښې مصروف دے ❀ د چا سره د خپل قبر د روښانه کولو فِکر نشته ❀ د قیامت د رڼا پهٔ باره کښې هیڅ سوچ نهٔ کوي ❀ پل صراط کوم چې د تورې نه ډیر تیرهٔ، د ویښتنه نه ډیر نرے او د دوزخ د پاسه جوړ دے او د هغې سره غټې غټې کونډې لګیدلې دي کوم چې به تیرونکي رانیسي او دوزخ ته به یې غورځوي، افسوس چې د هغه پل صراط د تیارې د چا سره د روښانه کولو فِکر نشته-

نن هر انسان دا غواړي چې بس زما د دُنیا مستقبل روښانه شي، که د هغې د پاره ما ته د کافرانو خوا له تلل ولې نهٔ وي یا د خپل ایمان نه لاس وینځل ولې نهٔ وي! آه! بے شمیره ځوانان د خپل مستقبل روښانه کولو پهٔ کوشش کښې مصروفه وي چې خوران ناڅاپې د مرګ ښکار شي او پهٔ زړونو کښې د روښانه مستقبل ارمان ځان سره تیارهٔ قبر ته یوسي! راځئ چې د یو داسې ځوان دردونکې واقعه واورو او د خپل قبر او د اخرت روښانه کولو کوشش وکړو!

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ۔

# د وادهٔ د یوځلمي دردونکې قیصه

حضرت سعید بن هاشم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: د کلي یو کَس د خپلې لور د وادهٔ پهٔ موقع پهٔ خپل کور کښې د سندرو او ګډا محفل راجوړ کړو، د هغه کور پهٔ خوا کښې هدیره وه، د شپې چې کله دا محفل ښهٔ پهٔ درز کښې روان وو نو ناڅاپه خلقو د هدیرې نه یو ویرونکے اواز واوریدو پهٔ کومې چې هغوئي ډیر حیران شو او هغوئي مکمل خاموشه شو، بیا د هدیرې نه چا دا شعرونه ووئیل:

| | |
|---|---|
| یَااَهۡلَ لَذَّةِ لَهۡوٍ لَاتَدُوۡمُ لَهُمۡ | اِنَّ الۡمَنَایَا تُبِیۡدُ اللَّهۡوَ وَاللَّعِبَا |
| کَمۡ مَنۡ رَاَیۡنَاهُ مَسۡرُوۡراً بِلَذَّتِهٖ | اَمۡسٰی فَرِیۡداً مِّنَ الۡاَهۡلِیۡنَ مُغۡتَرِبَا |

**ترجمه:** یعنې اے د ناپائیداره لوبو ټوقو پهٔ خوندونو کښې مصروفه خلقو! مرګ ټولې لوبې ټوقې ختمې کړي، څومره داسې وو کوم چې مونږه پهٔ دې خوندونو کښې مست ولیدل خو هغوئي د خپلو ملګرو نه جدا شو او دُنیا یې پرېښودله-

حضرت سعید بن هاشم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: **پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي چې لا یو څو ورځې تیرې شوې نهٔ وې چې د وادهٔ ځلمے وفات شو-** [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د هر یو ځلمي خواهش وي چې زهٔ د وادهٔ پهٔ شان خوږ سُنَّت ادا کړم خو د وادهٔ د دستورو پهٔ موقع کیدے شي چې مسلمانان خُدائے هیروي- تاسو به پهٔ خپل ژوند کښې پهٔ زرګونو ودونه لیدلي وي خو صرف یو وادهٔ راته داسې وښایئ کوم چې صرف د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا د پاره د شریعت مطابق شوے وي بلکې ټخپله به ستاسو پهٔ خپلو کورونو کښې هم ودونه شوي وي او تاسو به هم د سندرو او ګډا محفلونه جوړ کړي وي، نو اوس خپل انجام ته د دې سوونو کاله زړې واقعې پهٔ رڼا کښې وګورئ او عبرت حاصل کړئ! ممکن ده چې د چا

1...شرح الصدور، باب زیارة القبور...الخ، صفحه:217۔

پهٔ ذِهن کښې دا خبره راشي چې دا خو پهٔ سوونو کاله پخوانۍ او زړه واقعه ده نن سبا داسې چرته کیدےشي؟ راځئ چې یو څو کلونه مخکښینۍ واقعه واورو او پهٔ ځان کښې د اخرت فِکر پیدا کړو! یو څو کاله مخکښې پهٔ یو اخبار کښې داسې خبر راغلے وو چې

## سره د ناوې او د واده د ځلمي ټول جنج ډوب شو

پهٔ بنګله دیش کښې یو جنج د **میمن سنګهه** نه د وادهٔ د رسمونو ادا کولو نه پس پهٔ کشتۍ کښې ناست وو او واپس راتللو چې ناڅاپه یو طوفاني چپه راغله او هغه کشتۍ یې اُلټا کړه، پهٔ کومه کښې چې د ناوې او د وادهٔ د ځلمي سره سره 15 تنه ډوب شول او مړهٔ شول۔

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** هیڅ کله هم دا سوچ مهٔ کوئ چې مخکښې به پهٔ ودونو کښې د عبرت نه ډکې واقعې کیدلې او اوس نهٔ کیږي، د جنج د ډوبیدو واقعه یو څو کاله مخکښینۍ ده۔ وګورئ! د چا چې وادهٔ وي هغهٔ خپله وادهٔ ته ډیر خوشحاله وي او د وادهٔ د رسمونو ادا کولو نه پس چې کله جنج واپس راځي نو د وادهٔ د ځلمي خوشحالي نوره هم زیاته شي، آه! پهٔ دې خوشحالۍ کښې جنج واپس راتلو چې ناڅاپه د مرګ یوې څپیړې د وادهٔ ځلمے، ناوې او جنج د همیشه د پاره د مرګ پهٔ خوب اوده کړهٔ، د هغوئي خوشحالۍ یې ختمې کړې او د هغوئي پهٔ ټولو ارمانونو یې اوبهٔ واړولې۔

## چې بوډاګان شو نو عبادت به وکړو

د نن سبا ځوانان پهٔ دې غلط فهمۍ کښې دي چې اوس خو لا مونږه ځوانان یو چې کله بوډاګان شو نو بیا به ❁ نمونځونه کوو ❁ د عبادت د پاره به پهٔ جومات کښې پراتهٔ یو ❁ تسبیحات به کوو ❁ اوس د سحر پهٔ نمونځ کښې سستي کیږي نو چې بوډاګان شو نو تهجد به هم ادا کوو، داسې به پهٔ بوډا والي کښې ښه ډیر عبادت وکړو او پهٔ ځوانۍ کښې د شوو بے خیالو او غفلتونو کمے به پوره کړو۔

ځوانانو ته دا خيال د خپل ذِهن نه ويستل پکار دي چې هغوئي به بوډاګان شي ځکه چې د دې خبرې هيڅ ګارنټي نشته چې څوک به کله مړ کيږي؟ د چا په زړۀ کښې چې د بوډا والي خواهش دے هغوئي له دا ياد ساتل پکار دي چې صرف بوډاګان نۀ مرۀ کيږي ځوانان هم مړه کيږي- عين ممکن ده چې د بوډا والي د خواهش لرونکو ځوانانو د بوډا والي پۀ درشل د قدم ايښودو توفيق هم نصيب نۀ شي او هغوئي د مرګ ښکار شي او تيارۀ قبر ته ورسي- آه! پته نۀ لګي چې پۀ سړک تلونکې موټر سائيکلې، موټرې او آئل ټينکرې د څومره ځوانانو ژوند ختموي

## ښځه خاوند او بچي وچقيدل

يو ځل پۀ سُپر هائي وے يو موټر او آئل ټينکر وجنګيدل پۀ کوم کښې چې پۀ موټر کښې ناست ښځه خاوند او د هغوئي دوه ماشومان پۀ ټَک مړه شو-

## د بوډاګانو خراب حالت

اے ځوانانو! تاسو پۀ کومه خوش فهمۍ کښې اخته يئ او ستاسو يقين دے چې ستاسو به بوډا والے نصيب کيږي؟ که ستاسو د بوډا والي ارمان دے نو ✿ نو لږ پۀ خپل کور کښې د موجود يو بوډا جسماني حالت ته وګورئ ✿ که پۀ کور کښې بوډا ګس نۀ وي نو پۀ خپلوانو کښې چا بوډا ګس ته وګورئ ✿ که هلته هم نۀ وي نو پۀ خپلو ګاؤنډيانو کښې چا بوډا ته وګورئ ✿ او که چرته هم نۀ ميلاؤيږي نو اسپتال ته لاړ شئ او هلته چا بوډا مريض ته وګورئ، معلومه به شي درته چې د خوارانو بوډا ګانو څۀ حالت وي! آه! خواران ✿ پۀ خوراک ښباک ✿ ګرځيدو ✿ اوريدو او ليدلو ✿ تر دې پورې چې پۀ اِستنجا کولو کښې هم د بَل محتاجه وي- دومره خو هر چا ته پته ده چې بوډا والے د بيمارو کور وي خو افسوس چې د دې باوجود هم زمونږه پۀ معاشره کښې د بوډاګانو سره همدردي نۀ کيږي! څوک دوئي ته ردې بدې وائي نو څوک يې راکاږي تر دې پورې چې د خوارانو سره خپل سَکه اولاد هم نۀ کولو والا سلوک کوي-

## د بوډاګانو سره داسې سلوک ولې کيږي؟

د بوډاګانو سره داسې سلوک ځکه کيږي چې د مور او پلار سره صرف د خپل اولاد د روښانه مستقبل فِکر وي چې په څهٔ طريقه زمونږه بچے ❁ تعليم حاصل کړي او هوښيار شي ❁ د اوسنۍ زماني په حساب سره روان شي ❁ ماډرن وي ❁ ډاکټر جوړ شي ❁ انجينئر جوړ شي ❁ ښه ډير مال جمع کړي او خپل مستقبل روښانه کړي ❁ او بيا زمونږ د بوډا والي ملاتړجوړ شي- د مور او پلار د داسې سوچ او کوشش سره خو بعضې وخت د دُنيا دارۍ په لحاظ سره د بچي مستقبل روښانه شي خو هغوئي د خپل بوډا مور او پلار ملاتړ نهٔ جوړيږي ځکه چې هغوئي ته د مور او پلار اهميت نهٔ وي ښودلے شوے- ياد ساتئ چې ❁ د مور او پلار اهميت سائنسدانان نهٔ ښائي ❁ د ډاکټرانو په ډګريانو کښې د مور او پلار اهميت نهٔ ښودلے کيږي ❁ د انجينئرنګ ټول کورس وګورئ په دې کښې به درته د مور او پلار اهميت ميلاؤ نهٔ شي- که مور او پلار غواړي چې واقعي اولاد د هغوئي د بوډا والي ملاتړ جوړ شي نو خپل اولاد ته دې قرآن او حديث وښائي ځکه چې په قرآن او حديث کښې د مور او پلار اهميت ښودلے شوے دے- دغه شان په خپل اولاد باندې د دعوتِ اِسلامي په هفته واورو د سُنَّتو اِجتماعاتو کښې شرکت وکړئ چې په هغې کښې هم د مور او پلار اهميت ښودلے کيږي-

## چرته زمونږ بچے مُلا جوړ نهٔ شي

افسوس چې نن سبا ډير مور او پلار چې کله خپل بچي د سُنَّتو اِجتماعاتو کښې شرکت کوونڪي او عمامه شريف په سر کوونڪي ويني نو د هغوئي سره فِکر شي چې د دِيني ماحول سره د تړون لرلو په وجه چرته زمونږه بچے مُلا جوړ نهٔ شي او خپل مستقبل تيارهٔ نهٔ کړي! آه! په دې فِکر مور او پلار خپل بچي د سُنَّتو په اِجتماعاتو کښې د شرکت کولو او د عمامه شريف په سر کولو نه منع کوي- بعضې وخت داسې هم کيږي چې د روښانه

مستقبل پۀ فِکر کښې اخته مور او پلار چې خپل کوم بچے د دِيني ماحول نه لرې کوي نو هم هُغه بچے د څۀ پيښې يا بيمارئ ښکار شي او عين هم پۀ ځوانئ کښې د دې فاني دُنيا نه رخصت شي- دې لړ کښې يوه عبرتناکه واقعه واورئ-

## د فوډ پوائزن پۀ وجه د يو ځلمي مرګ

يو 15 يا 17 کلن ځلمي د دعوتِ اِسلامي پۀ وړومبي مَدَني مرکز جامع مسجد ګلزارِ حبيب(کراچئ) کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک شريف د اخرئ عشرې د اِعتکاف سعادت حاصل کړو، د کوم پۀ برکت چې به هغۀ پۀ هفته واره د سُنَّتو اجتماعاتو کښې شرکت کولو او هغۀ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے سُنَّت عمامه شريف هم پۀ سر کوله- پۀ دې ليدلو د روښانه مستقبل فِکر کوونکو مور او پلار ته د خپل بچي مستقبل تيارۀ پۀ نظر راغلو، کيدے شي چې هغوئي سوچ کړے وي چې زمونږه بچي خو عمامه پۀ سر کړه، اوس هسې نۀ چې ګيره پريږدي او مُلا جوړ نۀ شي ځکه مور او پلار هغۀ د سُنَّتو اِجتماعاتو کښې د شرکت کولو نه منع کړو- هُغه ځلمي چې اونۀ منله نو هغۀ يې ښه ووهلو تر دې پورې چې ظلمونه کله د حد نه زيات شو نو خوار حوصله بائلله او د ويرې د وجهې نه يې د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو پۀ اِجتماع کښې شرکت پريښودو- ظاهره ده چې بنده کله د ښه ماحول نه لرې شي نو د نـمونځونو نه هم لرې شي، افسوس چې هُغه خوار هم د نـمونځونو نه لرې شو- تقريباً يو کال هُغه ځلمے د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول نه لرې وو او بيا يوه ورځ هغۀ څۀ خوراک وکړو نو هغۀ ته فوډ پوائزن (***FOOD POISON***) وشو، د کوم پۀ وجه چې د هغۀ حالت پۀ ورو ورو خرابيدل شروع شو تر دې پورې چې هغۀ د پاکستان پۀ يو ګران هسپتال کښې داخل کړے شو-

د هغوئي د کور نه (اميرِ اهلِ سُنَّت مولانا الياس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه) ته جواب وشو چې زمونږه ځوي تاسو ډير يادوي- (اميرِ اهلِ سُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه ارشاد فرمائي:) چې

کله زۀ د هٰغه ځلمي د تپوس د پاره اسپتال ته لاړم نو د هغۀ سترګې بهر طرف ته راوتې وې او د هغۀ مخ دومره ویروونکے شوے وو چې هغۀ ته کتل د همت کار وو- بهر حال ډیرې ورځې هغۀ د مرګ پۀ بستره پروت وو او اخر هٰغه ځلمے کوم چې خپل مور او پلار د روښانه مستقبل پۀ فِکر کښې د ګیرې پریښودو، د عمامې پۀ سر کولو او د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو پۀ اجتماعاتو کښې د شرکت کولو نه منع کړے وو د مرګ ښکار شو او تیارۀ قبر ته کوز شو-

یقین وکړئ چې هٰغه ځلمے ډیر دین داره او عاشقِ رسول وو- تر دې پورې چې د دعوتِ اِسلامي پۀ دِیني ماحول کښې د هغۀ ډیر ځل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې زیارت هم نصیب شوے وو خو افسوس چې مور او پلار هغۀ د دِیني ماحول نه لرې کړو د پاره د دې چې د هغۀ مستقبل روښانه شي خو هغۀ د مور او پلار مستقبل د همیشه د پاره تیارۀ کړو او د دُنیا نه رخصت شو- الله پاک دې هٰغه ځلمے وبخښي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** څوک چې د دې دُنیا نه رخصت شي د هغۀ د پاره د دُنیا رنګینی رنګینی نۀ پاتې کیږي، د دُنیا هنګامې هنګامې نۀ پاتې کیږي، که پۀ ملک کښې هر قِسمه انقلاب راشي د مړ شوي ګس د هغې سره هیڅ کار نۀ وي، بس هٰغه ځلمے پۀ زړۀ کښې ډیر ارمانونه یوسي او تیارۀ او ژور قبر ته ورَسي-

د بده قسمته نن سبا مسلمانان دې د پاره پۀ خپل مینځ کښې جګړې کوي چې زمونږه تعلق د فلانکي قوم او د فلانکی قبیلې سره دے او مونږه د فلانکی ژبې ویوونکي یو ځکه مونږ له خپل حقونه پکار دي، حالانکې حقیقت دا دے چې که مسلمانان د ژبې، نسلي او علاقائي اختلافات پریږدي او یو شي نو ټول نفرتونه به ختم شي، ټولو ته به خپل خپل حقونه میلاؤ شي او مسلمانان به کامیاب شي-

افسوس چې د نن سبا مسلمانانو حالت ډیر خراب دے! که پوهه کوې یـې نو د پوهیدو د پاره نهٔ تیاریږي- یقین وکړئ چې هغه وخت ډیر تکلیف وي چې کله یو مسلمان د اخرت نه ویرولے شي یا ورله د نـمونځ کولو ترغیب ورکړے شي یا ورله د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو پهٔ اِجتماع کښې د شرکت دعوت ورکړے شي نو هغهٔ پهٔ بیزارۍ سره اخوا دیخوا ګوري، اوریدل داسې ګڼي لکه چې نهٔ یـې وي اوریدلي او د خبرې د بدلولو کوشش کوي-

## مبلغینو له حوصله نه ده بائلل پکار

د نیکۍ دعوت ورکوونکو له پکار دي چې که څوک د هغوئي خبرو ته پام کوي او که نهٔ کوي یا ردې بدې څهٔ هم وائي، بس هغوئي د صبر نه کار اخلي او پهٔ داسې انداز کښې د نیکۍ دعوت ورکوي چې پهٔ مخامخ کَس کښې موجوده شیطاني جذبه سَړَه شي- وګورئ چې کله شیطاني جذبه یخه شي نو بخپله به شرارت او مستي ختمه شي او هره خبره به پهٔ غور باندې اوري، داسې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د نیکۍ دعوت ورکوونکے پهٔ خپل مقصد کښې کامیاب شي-

یاد ساتئ چې څنګه تاسو د نیکۍ دعوت ورکړئ نو ضروري نهٔ ده چې هغهٔ هُم پهٔ وړومبي یا پهٔ دویم ځل ستاسو دعوت قبول کړي ځکه تاسو یـې موقع پهٔ موقع پوهه کوئ، پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې د هغهٔ د پاره غمژن کیږئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! یوه ورځ به هغهٔ ستاسو دعوت ضرور قبول کړي خو پهٔ چا پسې دومره هم مهٔ وریسې کیږئ چې هغهٔ بیزاره شي او ستاسو نه پهٔ لرې تښتیدو ته مجبوره شي-

## د دِین سره د دُنیا کار هم کول پکار دي

بعضې خلق د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره د تعلق لرونکو اِسلامي وروڼو د داسې پوهه کولو کوشش کوي چې **د ځان نه دې مُلا جوړ کړے دے، د معاشرې سره نهٔ ځې حالانکې د دِین سره د دُنیا کارونه هم پکار دي وغیره وغیره-**

د داسې خلقو په خدمت کښې عرض دے چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تعلق لرونکو اِسلامي وروڼو هم دُنيا نۀ ده پريښودې هغوئي هم د نورو خلقو په شان د خپل بال بچ پالنه کوي، حلال رزق ګټي او خوري-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو د بيان په شروع کښې د يو خو ځوانانو د مرګ په باره کښې عبرتناکې واقعې واوريدلې-آه! روزانه د ځونانو د مرګ عبرتناکې پيښې رامخې ته کيږي- په دې باره کښې يوه بله عبرتناکه واقعه واورئ! ډيره ږخوانی خبره ده چې يو ځوان د اميرِ اهلِسُنَّت، مولانا محمد الياس قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه آډيو بيان زمين کها گئی نواجوان کيسے کيسے واوريدو نو د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په نوم يــې خط راوليږو، په کوم کښې چې هغۀ د خپل خاندان د يو ځوان د مرګ عبرتناکه واقعه بيان کړې وه- د عبرت حاصلولو د پاره د هٰغه خط د مضمون خلاصه وړاندې کولے شي واورئ او عبرت ترينه حاصل کړئ:

## د يو ځوان عبرتناک مرګ

هٰغه ځوان په خط کښې ليکلي وو چې د کراچۍ په يوه علاقه کښې هر کال ميله کولے شي چرته چې تر 8 ورځو پورې ډولکې وهلے کيږي او نارينه او زنانه په شريکه ګډيږي- زمونږ خاندان والا هم هر کال په پابندۍ سره په ميله کښې شرکت کوي، ګډيږي او ډولکې وهي- خاندان والؤ د خفګان نه د بچ کيدو د پاره يو ځل ما هم په نۀ زړۀ مسلسل درې ورځې په دغه ميله کښې شرکت وکړو خو هلته به تلم او په څۀ بهانه به واپس کور ته راتلم- يوه ورځ داسې وشو چې ټول ملنګان راجمع وو، سګريټ څښلے کيدل، نارينؤ او زنانؤ په مستۍ کښې ګډاګانې کولې، په دې کښې زمونږ د خاندان يو ځلمے په جوش کښې راغلو او هغۀ مدهوشه شو او په ګډيدو ګډيدو د ميلې سره نزدې روډ ته ورسيدو، د سټرګو په رپ کښې هغۀ يو تيز رفتاره بس وچقولو چې په نتيجه کښې يــې هغۀ په ځوانی

کښېږي د عبرتناک مرګ ښکار شو- الله پاک دې هُغه ځلمے وبخښي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د ګنهګارو مسلمانانو سره همدري

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ معاشره کښې نيک او بد هر قِسمه خلق موجود دي ځکه مونږ له د نيکانو خلقو سره سره د ګنهګارانو مسلمانانو سره هم همدردي پکار ده بلکې ځان ګنهګار ګڼل او عاجزي اختيارول پکار ده چې هم دغه زمونږه د اسلافو (يعني د مخکښينونيکانو خلقو) طريقه ده- زمونږه بزرګانِ دِين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم به د الله پاک د نيک او مخلصه بندګانو کيدو باوجود ځان ګنهګار ګڼلو او ښه ډيره عاجزي به يې کوله-

## زما نه خوک هم نشي مخکښې کيدے

حضرت مالِک بن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که خوک د جومات پۀ دروازه کښې ودرېږي او اِعلان وکړي چې پۀ تاسو کښې خوک د ټولو نه خراب دے هغۀ دې بهر ووځي نو پۀ خُدائے مې دې قَسم وي چې زما نه مخکښې به خوک نه ووځي خو دا چې خوک د خپل طاقت پۀ وجه يا پۀ منډه کښې زما نه مخکښې شي- (1)

سُبْحٰنَ الله! د حضرت مالِک بِن دِينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره عاجزي وه! د بزرګانو داسې واقعات دې د پاره بيانولے کيږي چې زمونږ پۀ شان ګنهګاران مسلمانان ترينه عبرت حاصل کړي، زمونږ د ځان نيک ګڼلو پۀ شان خوش فهمي لرې شي او زمونږ د خپل روښانه مستقبل د ارمان سره سره د خپل قبر د روښانه کولو فِکر هم نصيب شي- پۀ معاشره کښې ليدلے کيږي چې د ډيرو خلقو سره د خپل اخرت هيڅ پروا نۀ وي تر دې پورې چې پۀ دې باره کښې د سوچ کولو او پۀ دې موضوع باندې د خبرو اترو کولو يا اوريدو د پاره هم تيار نۀ وي-

1 ... احياءالعلوم، کتاب ذم الکبر والعجب، بيان فضيلة التواضع، جلد:3، صفحه:420۔

افسوس چې زمونږه په معاشره کښې تقریباً په ټولو معاملو کښې دُنیا وړومبے کیښودے شي ❁ تاسو ملکي او ښهري نظام ته وګورئ په ټولو کښې د دُنیا د ژوند څۀ نا څۀ د اصلاح انتظام ضرور شته خو د دِیني اصلاح پکښې هیڅ انتظام نشته ❁ تاسو ته به د سکولونو ❁ کالجونو او ❁ د یونیورسټیانو جوړول په نظر راځي ❁ د لوبو د پاره به ټیمونه جوړول په نظر راځي په کومو چې په کال کښې لکونو بلکې په کروړونو روپۍ لګولے شي خو آیا د دِین د پاره هم داسې انتظام شوے دے؟ هیڅکله نه-

که څۀ اداري جوړې شوې دي نو د هغې حال ډیر خراب دے- مونږ دې ټولو د خپل ځان په باره کښې غور وکړو چې زمونږ سره د خپل ځان او د خپل بال بچ د اصلاح څومره فِکر راسره دے؟ حالانکې په قرآنِ کریم کښې د دې واضحه حکم ارشاد فرمائیلے شوے دے، په 28 سیپاره، سورۀ تحریم، آیت نمبر: 6 کښې اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ایمان والو! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هٰغه وور نه بچ کړئ چې د هغې خشاک انسانان او کاڼي دي- |

## د دُنیا د تعلیم سره سره دِیني تعلیم هم ورکړئ

نن سبا د چا سره د خپل بال بچ د اِصلاح فِکر دے؟ چې بچے لږ په ښه بد پوهه شي نو مور او پلار هغۀ له صرف د دُنیا تعلیم ورکوي- بے شکه خپلو بچو له د دُنیا تعلیم ورکړئ خو د دې سره سره د دِیني تعلیم ورکولو هم انتظام وکړئ، قرآن او حدیث ورته وښایئ، ښه ماحول ته یې ولیږئ، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ښو ښو سُنّتو باندې د عمل کولو ترغیب ورکړئ- وګورئ چې ❁ تاسو پخپله په سُنّتو باندې عمل نۀ کوئ نو خپلو بچو له به څنګه ترغیب ورکوئ ❁ چې تاسو پخپله په خپل مخ باندې ښکلې سُنّت ګیره نۀ پریږدئ نو خپلو بچو له به د ګیرې پریښودو ترغیب څنګه ورکوئ؟ ❁ چې تاسو پخپله عمامه شریف نۀ په سر کوئ نو خپلو بچو ته به څنګه د عمامې شریف په سر

کولو تلقين کوئ؟ ❀ چې تاسو پخپله د نـمونځونو پابندي نهٔ کوئ او د سحر د نـمونځ پهٔ وخت پهٔ بستره کښې اودهٔ پراتهٔ یئ نو خپل بچي به د نـمونځونو پابند څنګه جوړوئ؟ ❀ که تاسو پخپله سګریټ څښئ او ځوي منع کوئ نو ځوي به سوچ کوي چې **بابا خو پخپله پهٔ ښهٔ خوند سګریټ څښي خو ما منع کوي، که هر څنګه وي خو پهٔ دې کښې څهٔ ښه خوبي شته،** بیا به هغهٔ پهٔ کوڅو کښې پهٔ پټه سګریټ څښي-

یاد ساتئ چې پهٔ کوم نصیحت باندې پلار پخپله عمل کوي نو د هغې اثر به پهٔ ماشومانو باندې هم کیږي او پهٔ کوم نصیحت باندې چې هغهٔ پخپله عمل نهٔ کوي نو پهٔ بچو باندې به هم د هغې څهٔ اثر نهٔ کیږي- وګورئ که تاسو د بچو پهٔ مخکښې نـمونځ کوئ نو بیا که تاسو هغوئ ته د نـمونځ کولو نهٔ وایئ نو هم به هغوئ تاسو ته پهٔ کتلو نـمونځ کول شروع کوي او پهٔ هغه انداز کښې به رکوع او سجدې کوي پهٔ کوم انداز کښې چې یـې تاسو کوئ-

## پهٔ نـمونځ کښې خُشُوع وخُضُوع

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** زمونږه بزرګانِ دِین رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِم د نـمونځ کولو حق ادا کړے،خو مونږ له د هغوئ پهٔ شان نـمونځونه کول چرته راځي؟ افسوس چې د هغوئ پهٔ شان خُشُوع و خُضُوع زمونږه پهٔ نـمونځونو کښې چرته ده؟ مونږه چې کله نـمونځ شروع کړو نو زمونږ ذِهن ته قِسما قِسم سوچونه راځي مثلاً ❀ زر زر نـمونځ کوم ځکه چې پهٔ دکان کښې به ګاهک انتظار کوي ❀ دغه شان مونږه پهٔ نـمونځ کښې دا سوچ هم کوو چې پهٔ واپسۍ کښې مونږ ته د دُکان نه فلانکے خیز اخستل دي یا د فلانکي دکاندار قرض ورکول دي بیا به د هغهٔ پهٔ مخه باندې څنګه تیریږم؟ ځکه به په بدله لاره کور ته ځم وغیره وغیره- غور وکړئ چې داسې قِسمه خیالونه پهٔ نـمونځ کښې راځي نو مونږه به څنګه خُشُوع و خُضُوع حاصله کړو؟

## د ژوند حقيقي مقصد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د ژوند حقيقي مقصد بينک بيلنس جوړول نهٔ دي بلکې د عبادت پهٔ ذريعه د الله پاک رضا حاصلول او د اخرت د پاره ثواب ګټل دي- کومو خلقو چې بينک بيلنس جوړ کړو او د دُنيا نه رخصت شو هغه د هغوئي پهٔ څهٔ کار راغلل ؟ زمونږه بزرګانِ دِين رَحۡمَةُاللّٰہِ‌عَلَيۡهِم به د دې ويرې نه مال نهٔ جمع کولو چې هسې نه چرته داسې وشي چې د دُنيا نه د رخصتيدو نه پس زمونږه بچي زمونږه د جمع کړے شوي مال پهٔ ذريعه پهٔ ګناهونو کښې اخته نشي او مونږه د ګناهونو پهٔ معامله کښې د هغوئي مددګار اونهٔ شميرلے شو-

## زما د دولت ورته حاجت نشته

د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُاللّٰہِ‌عَلَيۡه چې کله د ظاهري وصال وخت راغلو نو خلقو عرض وکړو: **که د خپلو بچو د پاره دې څهٔ پريښودي وو نو ښه به وه-** عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُاللّٰہِ‌عَلَيۡه ارشاد وفرمائيلو: که زما بچي ګنهګاران وي نو زهٔ د هغوئي د پاره پهٔ مال پريښودو د هغوئي پهٔ ګناهونو باندې مدد کوونکے جوړيدل نهٔ غواړم **او که زما بچي نيکان وي نو هغوئي ته زما د دولت حاجت نشته، الله د هغوئي د پاره کافي دے-** (1)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ‌عَلَيۡهِ‌وَاٰلِهٖ‌وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وکتل چې زمونږه د اسلافو (د مخکښينو نيکانو بزرګانو) به څنګه مَدَني سوچ وو، خو زمونږه سوچ د دې نه اُلټا دے؟ مونږه د خپل بينک بيلنس زياتولو د پاره ښه دروغ وايو، رشوتونه اخلو، يو بل له دوکه ورکوو او د ملاؤټ مال خرڅوو او بيا د داسې جمع کړے شوي مال سره اخر کښې څهٔ کيږي؟ دا چې داسې مال د اخرت د وبال ذريعه جوړيږي او يوه ورځ بنده هغه پريږدي او ناڅاپه د دُنيا نه رخصتيږي- نو

1 ... مکاشفة القلوب، الباب الثامن والثلاثون فی ذم المال، صفحه:143 ملخصاً۔

# د يو سيټهـ ناڅاپي مرګ

ډېره ښځوانې خبره ده چې د يو سيټهـ خوا له د مال اخستو د پاره د امريکې نه يو ډېر لوئي سوداګر راغلو، سيټهـ د هغهٔ په راتلو دومره خوشحاله شو چې هغهٔ ته د زړهٔ دوره وشوه او هغهٔ هم هلته وفات شو-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! چې کله څوک مالداره د دُنيا نه رخصت شي نو په اخبارونو کښې د هغهٔ په نوم سره تعزيتي پيغامونه چاپ کولے کيږي او د هغهٔ په ياد کښې په مختلفو ځايونو کښې تعزيتي جلسې کولے شي خو په حقيقي معنو کښې د هغهٔ سره همدردي کولو والا ډېر کم وي- عام طور د لاس نيوې نه مقصد هم دا وي چې د وفات شوي مالداره ګس اولاد خوشحاله شي د پاره د دې چې په اسانه پرې خپل کارونه ويستلے شي، نو داسې کښې خلق صرف د دُنيا د فائدې د پاره لاس نيوه کوي-

آه! دُنيا ډېره بے وفا او مطلبي ده، ځکه د الله پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت وکړئ کښې د دُنيا دارو سره د محبت په بدله به درته هيڅ هم په لاس رانشي- که تاسو د چا سره دوستي کول غواړئ نو د الله پاک د رضا د حاصلولو د پاره يې وکړئ او که د مخکښې نه مو د چا سره دوستي وي نو سوچ وکړئ چې هٰغه دوستي د الله پاک د رضا د پاره ده که نه د څهٔ بل مقصد د پاره ده؟ چرته دې د پاره خو نهٔ ده چې دوست په تاسو باندې ښه ډېر مال لګوي يا د هغهٔ رنګ او کړهٔ وړهٔ په تاسو ښه لګي يا درته لطيفې کوي او ستاسو زړهٔ خوشحالوي وغيره وغيره- که تاسو د چا سره دې د پاره دوستي کړې وي چې هغوئي تاسو ته دِين ښائي، په سُنَّتو باندې د عمل کولو ترغيب درکوي، د سحر د نمونځ د پاره مو راپاڅوي نو داسې دوستي مرحبا! خو افسوس چې اوس ډېر خلق د ذاتي فائدې په وجه دوستي کوي- آه! مرګ د خوږې نه خوږه دوستي ختموي او بعضې وخت د يو بل سره ډېره خوږه دوستي کوونکي مخکښې وروستو په لږه موده کښې د مرګ ښکار شي او د دُنيا نه رخصت شي- په دې باره کښې د عبرت نه ډکه يوه واقعه واورئ!

# د خوږې دوستۍ لرونکو 2 ورونو مرګ

حضرت علّامه جَلالُ الدِّین سُیُوطي شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه نقل کوي: د 2 ورونو د یو بَل سره ډیره خوږه دوستي وه، مشر ورور یـې چې اَصفَهَان ته لاړو نو کشر ورور یـې وفات شو- چې کله یـې مشر ورور د اصفهان نه راواپس شو نو ډیر خفه شو او هره ورځ به هدیرې ته تللو تر دې پورې چې 7 میاشتې هم داسې تیرې شوې- یو ځل د معمول مطابق د خپل ورور قبر ته لاړو نو هغهٔ د هدیرې پهٔ خاموشۍ کښې یو غیبي اواز واوریدو کوم چې د عربۍ یو شعر وو:

| | |
|---|---|
| يَا أَيُّهَا الْبَاكِي عَلَى غَيْرِهِ | نَفْسَكَ أَصْلِحْهَا وَلَا تَبْكِهِ |
| إِنَّ الَّذِى تَبْكِي عَلَى أَثْرِهِ | تُوشِكُ أَنْ تَسْلُكَ فِي سِلْكِهِ |

**ترجمه:** اے د بَل پهٔ [مرګ] ژړیدونکیه! پهٔ دهٔ باندې مهٔ ژاړه د خپلې اِصلاح فِکر وکړهٔ! تهٔ د خپل ورور د پاره ژاړې حالانکې ډیر زر به تهٔ هم د هغهٔ پهٔ صف کښې شامل شې (یعنې ډیر زر به ستا نوم هم د مړو پهٔ لسټ کښې راشي او تا ته به هم مرحوم وئیلے کیږي)- چې مشر ورور یـې دا اواز واوریدو نو پهٔ هغهٔ باندې غونے ځیګ ځیګ شو او هغهٔ کور ته واپس راغلو، بیا درې ورځې پس هغهٔ هم وفات شو او هغهٔ د خپل ورور پهٔ خوا کښې خاورو ته وسپارلے شو- [1]

اے کاش چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ عشق کښې زمونږه ساه لاړه شي! پهٔ دې باره کښې د یو عاشقِ رسول ځوان د مرګ ایمان تازه کوونکې واقعه واورئ! او د هغهٔ پهٔ قِسمت باندې رشک وکړئ-

# د یو ځلمي قابلِ رشک مرګ

امیرِ اهلِسُنَّت، مولانا محمد الیاس قادري دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه فرمائي: یو ځل زهٔ پهٔ مسجدِ نبوي شریف کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قدمونو

1...مکاشفة القلوب، باب زیارة القبور...الخ، صفحه:218 ملخصاً-

مبارکو اړخ ته پۀ ادب ناست ووم چې پۀ دې کښې يو ځوان زما خوا له راغلو او خپل تعارف يــې وکړو او اوئې وئيل: زما نوم غُلام سَرور دے، زما تعلق د پاکستان د پنجاب صوبې سره دے، د څۀ کار د پاره دلته راغلے يم او تقريباً د څلورو کالو نه دلته اوسيږم- بهر حال څۀ وخت د هغۀ سره خبرې اترې وشوې بيا هغۀ لاړو او بيا به کله نا کله راتلو، د هغۀ سره به ملاقات کيدو- يوه ورځ چې ورسره ملاقات وشو نو پۀ خبرو اترو کښې هغۀ ووئيل چې يو ځل ما يو داسې ځوان وليدو د کوم مخ چې ډير نُوراني وو، هغۀ پۀ بابِ جبريل مسجدِ نبوي شريف ته داخل شو، زۀ هم پۀ هغۀ پسې وروستو وروستو روان شوم، هغۀ د بابِ جبريل نه ښي اړخ ته تاؤ شو، لکه چې د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ بارګاه کښې يــې حاضري ورکول غوښتل، بيا هغۀ ټيټ سر د هيبت او د ادب نمونې جوړيدو سره د شنو جنګلو طرف ته روان وو، څنګه چې د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قدمونو مبارکو ښي اړخ ته ورسيدو نو ناڅاپه پۀ زمکه باندې راپريوتو او هم هلته وفات شو-

جب تری یاد میں دُنیا سے گیا ہے کوئی | جان لینے کو دلہن بن کے قضا آئی ہے

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ قدمونو مبارکو کښې ساه ورکوونکے ځوان يقيناً چې ډير خوش قِسمته او د رشک قابل دے! آه! کوم خواران چې د فلم کتو نه پس د سنيما نه راووځي او د ډزو وغيره د څۀ پيښې ښکار شي او مړه شي هغوئي ډير بد نصيبه او د عبرت قابل دي!

الله پاک دې مونږه ټول د داسې مرګ نه وساتي او زمونږ دې د ګنبدِ خَضرا د لاندې د شهادت مرګ، پۀ جنَّتُ البقيع کښې دفن کيدل او پۀ جنَّتُ الفردوس کښې د خپل مَدَني حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصيب کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** که پۀ ځان کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ښکلو سُنَّتو باندې د عمل کولو جذبه پيدا کول غواړئ او د نبي

کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبت جامونه څښل غواړئ نو د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ، د دې ماحول په برکت به اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! تاسو د سُنَّتو پابند جوړ شئ، ستاسو په ذِهن کښې به د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د مدينے منورې يادونه کښيني او ستاسو به د خپل اخرت د ښه کولو فِکر نصيب شي۔

په خپل ځان کښې د فکرِاخرت د جذبې پيدا کولو د پاره د اميرِ اهلِسُنَّت، مولانا محمد اِلياس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ کتابونه او رسالې او تحريري بيانونه ډير فائده مند دي لهٰذا تاسو د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ www.dawateislami.net نه د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ کتابونه او رسالې او تحريري بيانونه ډاؤن لوډ کړئ، پخپله يـې هم ولولئ او نورو ته هُم ترغيب ورکړئ.

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د نيک جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او په نيکو باندې د استقامت موندلو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تنظيم **دعوتِ اِسلامي** دِيني ماحول ته راشئ او د ذيلي حلقے په 12 ديني کارونو کښې هم ښه ډيره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د دنيا او آخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي۔ په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: د **نيک اعمال** د رسالې نه روزانه جائزه اخستل۔

✿ د ځان د اصلاح او د شيطان نه د بچ کيدو بهترينه طريقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو۔ په اوسني وخت کښې اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طريقه ښودلې ده: **رساله نيک اعمال** ✿ د زيات عمر اسلامي وروڼو د پاره په **نيک اعمال رساله** کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ✿ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي

❀ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ❀ د ښه اِسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ❀ د دې پۀ ذريعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده۔

تاسو هم دا رساله واخلئ! د نيک اعمال مطابق هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډيره فائده به در نصيب شي ❀ اخلاق به مو ښه کيږي ❀ کردار به مو ښه شي ❀ عادتونه به مو ښه شي ❀ پۀ نيکو باندې به مو استقامت نصيب شي ❀ د ګناهونو نه به مو نفرت شي ❀ زړۀ به مو روښانه شي ❀ د الله پاک محبت به مو نصيب شي ❀ عشق رسول به زيات شي ❀ روحانيت به ميلاو شي او ❀ د آخرت فکر به مو نصيب شي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## روزانه د جائزې اخستو انعام

يو اِسلامي ورور وائي چې اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما د نيک اعمال سره محبت دے او د دې پۀ ذريعه روزانه خپله جائزه اخستل زما معمول دے۔ يو ځل زۀ د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافله کښې د عاشقانِ رسول سره د بلوچستان صوبې (پاکستان) پۀ سفر ووم۔ هغه وخت پۀ ما ګنهګار باندې کرم وشو۔ داسې وشول چې زۀ کله د شپې اودۀ شوم نو بخت مې رابيدار شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړلو، اوس لا پۀ جلوو کښې ورک ووم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد وه فرمائيلو څوک چې پۀ مَدَني قافله کښې روزانه د نيک اعمال رسالې نه خپله جائزه اخلي زۀ بۀ هغوئي د ځان سره جنَّت ته بوځم۔

شکریہ کیوں کر ادا ہو آپ کا یا مصطفٰی | کہ پڑوسی خُلد میں اپنا بنایا شکریہ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اسلامک اِي بُک ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا اسلامک اي بک ايپلي کيشن معارفي کړے شوے دے، پۀ دې ايپلي کيشن کښې دا بهترين آپشنز (***Options***) موجود دي: ❁ د دعوت اسلامي د خپرونکي اداره مکتبة المدينه چاپ شوي تقريباً ټول کتابونه او رسالے (تقريباً پۀ 38 ژبو کښې) د دې ايپلي کيشن حصه ده ❁ پۀ هفته واره اجتماع کښې کيدونکي ليکلے شوي بيانونه ❁ د دې سره سره د مَدَني مياشتنو مشورو مَدَني ګلونه او د مَدَني مذاکرے سوال او جواب (مختصراً) ❁ماهنامه فيضانِ مدينه او ❁ملفوظاتِ اميرِ اهلسُنّت هم پۀ دې ايپلي کيشن کښې شاملولے شي- هم نن دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ! او نور له هم د دې ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چينل باندې لائيو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکي خالي پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نمانځۀ نه پس تقريباً 9 بجې او 45 منټ پۀ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د يوې دِيني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکي هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د روحاني او طِبّي علاج رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د

نورو سره هم شیئر (*Share*) کړي! ❁ مکتبةُالمدينه د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د ورور مولانا حسن رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د کربلا د واقعې په باره کښې په صحیح او ساده انداز کښې په معلوماتو مشتمل کتاب ''آئینه قیامت'' د شائع کولو سعادت حاصل کړے دے. تاسو دا کتاب د مکتبةُالمدينه د هر شاخ نه په **100** روپۍ په قیمت حاصل کړئ، پخپله یې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خورو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ کَانَ مَعِیَ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینه تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

**د آخِري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** په ټولو رانجو کښې بهترین رانجه اِثمد دي څکه چې دا نظر روښانه کوي او بانه راټوکوي- (2)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د کاڼي د رانجو په استعمالولو کښې هیڅ باک نشته او ❁ تور رانجه یا ګَجَل د ښائسته کیدو په نیت سره د نارینوو د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نه وي نو بیا مکروه نه دي ❁ رانجه د شپې د اوده کیدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ❁ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوو طریقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کوو: (1): کله په دواړو سترګو کښې 3، 3

1...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343-
2...ابن ماجه، کتاب: الطب، باب: الكحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497-

سلاياني (2): کله پۀ بنی ستړګه کښې 3 سلاياني او پۀ ګڅه ستړګه کښې 2 (3): نو کله پۀ دواړو ستړګو کښې 2، 2 او بيا پۀ آخِره کښې يوه سلائي پۀ رجړومه [د رانجو ګسوړه] کښې ووهئ او هغه پۀ نمبر نمبر پۀ دواړو ستړګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! پۀ دريو واړو طريقو باندې عمل کيږي۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د تکريم چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بني اړخ نه شروع کول، څکه وړومبے پۀ بنی ستړګه کښې رانجه پورې کړئ بيا پۀ ګڅه کښې۔ [1]

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں [2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
علمِ حاصل کرو، جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو [3]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...550 سنتیں اور آداب، صفحه:38۔

2...سامانِ بخشش، صفحه:147۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:669 ملتقطًا۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته کړے شي.[2] راځۍ

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چې په شریکه ئې اُووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

---

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2 ... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیع اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵